# دَ یوحنا رسُول درېم خط

## سلام

١ دَ مشر له طرفه، خوږ ګایوس ته، دَ چا سره چه زَۀ رښتینې مینه لرم.

٢ زما خوږه ګایوسه! زَۀ دُعا غواړم چه روغ جوړ اَؤ په خیر خیریت اوسې لکه څنګه
چه زَۀ خبر یم چه تۀ په روحانی طور یئې. ٣ هر کله چه ورُونړه راغلل اَؤ ما ته ئې دا
ووئیل چه تۀ څومره په حقیقت کښې ژوند تیروې نو ډېر خوشحاله شوم. بې شکه تۀ
په خپل ټول ژوندُون کښې رښتینې یئې. ٤ دَ دې نه زیاته خوشحالی ما ته په بل هیڅ
څیز نۀ حاصلیږی چه زَۀ دَ دې نه خبر شم چه زما بچی په حقه لار روان دی.

## مرسته اَؤ مُخالفت کول

٥ اَئې وروره! تۀ دَ ورُونړو په خدمت کښې ډېر وفادار یئې اګر که تۀ هغوئ پېژنې
هم نه. ٦ هغوئ دلته دَ جماعت په وړاندې ستا دَ ښۀ سلوک صفت وکړو. مهربانی
وکړه تۀ دَ دوئ په سفر کښې ورسره هغه شان مدد وکړه لکه څنګه چه زمُونږ دَ خُدائې
دَ وړاندې لائق دی. ٧ هغوئ دَ عیسیٰ دَ نُوم دَ خاطره دَ خدمت کولو دَ پاره ووتل اَؤ دَ
بې ایمانانو نه هیڅ څیز هم نۀ آخلی. ٨ نو مُونږ ته لازم دی چه دَ داسې خلقو مدد
وکړُو اَؤ په دغسې کولو دَ حقیقت په خورولو کښې دَ هغوئ ملګری شُو.

٩ ما جماعت ته یو خط استولې وو خو دیوترِفس چه دَ دوی دَ مشرئ شوق لرُونکې
دې مُونږ نۀ قبلوی. ١٠ که زَۀ درغلم نو هغه کارُونه به درته په ګُوته کړم کُوم چه هغه
کوی. هغه زمُونږ په خلاف بې بُنیاده اَؤ سپک تهمتُونه لګوی، اَؤ لا په دې هم نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صبرېږی بلکه زمُونږ ورُونړه هر کلی ته پرېږدی قدرِ هم نه، اَؤ څوک چه داسے کوی
هغوئ هم منع کوی تر دے چه دَ جماعت نه ئے هم وباسی.

١١ زما خوږه ملګريه! دَ بدو پيروی مه کوه بلکه دَ ښو کوه، ښه کار کوُونکے دَ خُدائے
بچے دے اَؤ بد کار کوُونکی خُدائے کله هم ليدلے نۀ دے.

١٢ دَ ديميتيريوس دَ پاره هر څوک ښۀ شهادت ورکوی اَؤ دا حقيقت هم دے، مُونږ
پخپله هم دَ هغۀ شهادت ورکوُو اَؤ تۀ خبر ئے چه زمُونږ شهادت رښتينے دے.

## آخری سلام

١٣ زَۀ ډيرے خبرے درته ليکل غواړم خو دا نۀ غواړم چه په قلم اَؤ سياهئ ئے وليکم.
١٤ زما اُميد دے چه ډير زر به تا ووينم اَؤ مخامخ به درسره خبرے وکړم.

١٥ په تا دِ سلامتی وی. زمُونږ دوستان سلامُونه درته وائی، زمُونږ هر يو دوست ته
سلام ووايه.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.